# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# یشعیاه راتلونکی وخت ته ګوری



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



یشعیاه یو نبی وو. د هغۀ کار خلقو ته وئیل وو چې خدائ څۀ وائی. خلقو همېشه د خدائ کلام اورېدل نۀ غوښتل.



خو یشعیاه کله هم خدایٔ نهٔ وو پرېښے. یشعیاه د څلورو مختلفو بادشاهانو په دور کښې تبلیغ وکړو.




عزیاه بادشاه د یروشلم ښار نه د یهوده په ملک حکومت وکړو. د ټولو نه اول، خدایٔ عزیاه له برکت ورکوی ځکه چې هغې داسې څهٔ وکړل چې د خدایٔ په نظر کښې ټیک وو. خو عزیاه غرور وکړی او خدایٔ تابعداری پرېږدی. هغهٔ باندې جزام راشی او تر خپل مرګه پورې یواځې وی.




عزیاه بادشاه د شپېتو کالو نه زیات حکومت کړے وو. کله چې هغه مړ شو نو د هغهٔ زوئ یوتام د هغهٔ په ځائ شو او تر اوولس کاله پورې ئې حکومت وکړو. خدایٔ یوتام له برکت ورکړو ځکه چې هغهٔ واورېدل چې خدایٔ د یشعیاه او نورو پیغمبرانو په وسیله څهٔ وئیل.




د یوتام بادشاه زوئ آخز وو. هغهٔ د شلو کالو په عمر کښې بادشاهی شروع کړه، او هغهٔ په یروشلم کښې شپاړس کاله بادشاهی وکړه. آخز د خدایٔ پرواه نهٔ کوله.




هغهٔ د بتانو او د دروغژنو معبودانو عبادت وکړو، او د خدایٔ ډېرو خلقو ته ئې هم د داسې کولو د پاره ووئیل. خو یشعیاه هغه خبردار کړو، خو هغهٔ د خدایٔ خبردار رد کړو. او هغه صرف د پنځو دیرشو کالو په عمر کښې مړ شو.




خدایٔ بل بادشاه خزقیاه له برکت ورکړو، ځکه چې هغهٔ ټول بتان او دروغژن معبودان لرې کړل او رښتینی خدایٔ نه ئې دعا وغوښته. چې کله دشمن په یهوداه حمله وکړه نو خزقیاه ته معلومه شوه چې د هغهٔ فوج د ګټلو د پاره ډېر کمزورے دے. نو هغهٔ یشعیاه ته ووئیل چې خدایٔ نه د مدد د پاره دعا وغواړی.




يشعياه دا پيغام بادشاه له ولېږلو. دا هغه څۀ دي چې رب
فرمائي: د هغه دشمن نه مۀ يريږه. زۀ به هغوئ ختم کړم!
ډېر زر، خدائ د دشمن فوج خزقياه سره د جنګ کولو نه
بغېر واپس ولېږلو.
9


اګرچه د هغۀ نه ګېر
چاپېره خلقو د خدائ په
حقله دومره سوچ نۀ
کولو، خو يشعياه د
خدائ په حقله ډېر
سوچ کولو. يوه
ورځ، هغۀ
يوه رويا
ولېده، څنګه
چې تاسو خوب
وينئ، چې کله
اوده يئ.
په رويا کښې،
يشعياه دا ولېدل
چې خدائ
څومره
زبردست او
پاک دے.
10


خدائ ترې په رويا کښې
تپوس وکړو، زۀ څوک
ولېږم؟ يشعياه جواب ورکړو،
دلته زۀ يم، ما ولېږه. چې د
څۀ هم خدائ تپوس وکړو نو
هغې د پاره هغه تيار وو، او
چې چرته هم خدائ ولېږلو
نو هلته تلو ته تيار وو.
11


کېدے شي يشعياه دا سوچ کولو چې خدائ به هغه
نور هم لرې خلقو ته ولېږي چا چې د خدائ په حقله
نۀ دي اورېدلي. خو نه، خدائ داسې ونۀ کړل.
12


خدائ يشعياه په خپل ملک کښې خپلو خلقو سره
خبرو د پاره ولېږلو. هغۀ له دا وئيل وو چې خدائ
د هغوئ په ګناهونو باندې خفه دے.
13


نورې خبرې داسې وې چې کومې يشعياه له خپلو خلقو ته
کول وو. دا د يو داسې سړي د راتلو په حقله وې چې يو
زبردست خلاصوونکے به وي او هغوئ له به د خپلو ټولو
ګناهونو او
دشمنانو نه
خلاصون
ورکړي.
14

یهودیانو هغه سړی ته مسیح ووئیل. اګرچې د هغوئ دا اُمید
وو چې خدائ به مسیح راولیږی، خو ډیرو خلقو دا اُمید
بائیللے چې هغه به هډو
را نهٔ شی.



15

یشعیاه چې د مسیح په حقله کومې تولې خبرې وکړې،
نو دا د هغهٔ په خپل
کتاب کښې لیکلې
دی. حالانکه هغهٔ دا
خبرې د پیښیدو نه په
سوونو کاله مخکښې
لیکلې دی، یشعیاه
چې د مسیح په حقله
څهٔ هم لیکلی وو
هغه ټول هم هغه
شان وشول.




16

یشعیاه ووئیل چې خدائ به په خپله
څهٔ نښه درکړی. هغهٔ ووئیل،



ګورئ یوه پیغله
به اُمیدواره شی او زوئ به ئې
وشی. او د هغهٔ نه به عمانوایل کیږدی.
خلقو ته پته وه چې یشعیاه د خدائ
د مسیح په حقله خبرې کولې،
ځکه چې د یوې پیغلې



ښځې ماشوم نهٔ شی پیدا
کیدے. د دې نه علاوه، د
نوم عمانوایل مطلب دے
خدائ زمونږ مل دے.

17

زمونږ د پاره یو هلک پیدا شو، او
مونږ له یو زوئ راکړے شو او
بادشاهی به د هغهٔ په اوږو وی او
د هغهٔ نوم به عجیبه مشیر، خدائ
تعالی، ابدی پلار او د سلامتی
شهزاده. د یشعیاه په دې خبره یقین
وو چې د خدائ وعده به رښتیا
شی، هغهٔ داسې ووئیل لکه چې دا
واقعه مخکښې شوې وې. دې ته
پیشګوئی وئیلے شی.



18

یشعیاه ووئیل چې مسیح به لوئ وی او لوئ لوئ کارونه به
وکړی. خدائ یشعیاه ته دا هم ووئیل چې خلقو ته دا ووایه
چې مسیح ته به ځومره نقصان ورسولے شی، او مرګ ته
به حواله کړے شی.



19

یشعیاه به حیران وو چې مسیح څنګه لوئ او طاقتور
کیدے شی او دې سره کمزورے او زخمی کیدے هم شی.
خو یشعیاه د خدائ سره بحث ونهٔ کړو. هغهٔ صرف هغه څهٔ
ووئیل چې خدائ ورته وئیل. خدائ
به دا خبره یقینی کړی چې د هغهٔ
پیشګوئی به رښتیا شی.



20

مسيح راروان وو، خو صرف يهوديانو د پاره نه. خدائ يشعياه ته وئيل چې مسيح به د غېرو قومونو د پاره رڼا وی. غېرقومونه، په دنيا کښې هغه ټولو خلقو د پاره چې يهوديان نۀ دی. ځکه چې خدائ ټولو سره مينه کوی او د هغۀ مسيح به ټولو له برکت ورکړی او په آخر کښې به د خلاصون د پاره راځی.





يشعياه راتلونکی وخت ته ګوری

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

يشعياه ۱، ٦، ۷، ۸، ۵۳

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119






27 60



دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون وموםم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲